# محترم محمد اجمل خټک سره زما

# د لیک او ټیلیفون په لار پیژندګلو

رحمت شاه قریشي

د پښتون قام اتلانو په خپل وخت او اقتدار کښې داسې په خپل وطن مئین شاه زلمي پیدا کړي دي چې د هغوي نومونه د تاریخ په پاڼو کښې د ټولو نه اول دي. او د سرو زرو په اوبو لیکلي دي. د پښتنو مشرانو په هر وخت کښې داسې پښتانه ننګیالي پیدا کړي چې تر نن ورځ پورې ئې د هغوي کورونو کسان نن هم د دنیا په تاریخ فخر او ویاړ کوي. او د دوي د قربانیانو قصې خپلو راتلونکو کسانو ته کوي. په دې پښتون تاریخ او د پښتنو په قربانیانو کښې د باچاخان بابا نوم هم د پښتون تاریخ کښې داسې ځلنده دے چې د وخت یو ستم هم دا تاریخ له پښتنو او د پښتو په خاوره اوسېدونکو نه دے پټ کړے.



باچاخان بابا چې د نورو مشرانو اتلانو په شان پښتنې خاورې او وطن آزادۍ دپاره کوم تنظیمونه جوړ کړي وو او پښتنو ته ئې د مینې او محبت لاره غوره کړې وه. په هغې کښې یو تنظیم نوم د خدائي خدمتګار تحریک هم ؤ چې تر نن ورځ پورې ئې نوم په پښتنو سیمو او په ټوله نړۍ کښې ژوندے دے. او هر یو کس او حکمران ئې د خپلې لارې مثال ګڼي. د باچاخان بابا په دې قامي تحریک کښې ډېر ښه ښه ملګري او خدائي خدمتګاران وو په دې خدائي خدمتګارانو او د پښتنو خاورې په آزادۍ او قربانۍ کښې یو نوم د ستر اتل او د خوشحال خان خټک بابا د کور او د سترګو تور خدائي بخښلي محمد اجمل خټک بابا هم ؤ. چې نوم ئې په ټوله نړۍ کښې لکه د روښانه لمر ځلیږي.

اجمل خټک بابا چې څنګه ځوان شو نو د خپل وطن او خاورې د خدمت دپاره ئې د نورو پښتنو کشرانو او مشرانو سره ئې داسې ملا وتړله چې د وخت یو ستم هم تر مرګه پورې دے کار نه پاتې نه کړو او د وخت هر ستم او جبر ئې په ډېره خوشحالۍ سره برداشت کړو. خو د پښتون خاوره او وطن ئې چا ته هم پرې نښود. د باچاخان بابا هر

ملګري او هر خدائي خدمتګار ژوند او مرګ ځان ځان ته تاريخ او زمانه وه او لا هم ده. خو د اجمل خټک بابا ژوند او مرګ بادشاهي هم وه او ملنګي هم وه. په دې دواړو کښې اجمل بابا داسې روښانه ژوند وکړو چې نن دنيا ور ته حېرانه ده او د هر فکر او هرې نظريې کسان ئې په دې مجبور دي چې د اجمل بابا د ژوند او مرګ تعريف وکړي او دوي قامي خدمت ته سلام پېش کړي.

اجمل بابا د نورو خلقو غوندې د وخت بادشاهي ليدلې وه. بابا د نورو سياسي کسانو غوندې MNA او سنيټر هم پاتې شوے ؤ خو د اجمل خټک بابا حال د نورو سياسي کسانو نه ډېر مختلف ؤ او په بادشاهۍ کښې ئې ملنګي څرګنده کړې وه. او د غريبۍ ژوند ئې خوښ کړے ؤ. اجمل بابا هغه خدائي خدمتګارو کښې ؤ چې د پښتون او پښتو خبره ئې د هر جابر حکمران ترمخ داسې په نره کړې وه چې د هغې وخت حکمرانان ور ته ګوته په خله پاتې شوي وو. او د دنيا هر لالچ ته ئې داسې جواب ورکړے ؤ چې تر مرګ پورې ئې د ژوند کتاب صفا او د دې دنيا يو داغ پرې نه ؤ.

اجمل بابا ته د وخت زوررو او حکمرانانو ډېر ووئيل چې د بادشاهۍ ژوند کوه. خو اجمل بابا ور ته وئيل چې زۀ يو داسې ليلى باندې مئين چې نوم ئې پښتون ولي دے. او دې پښتون ولي کښې زما ژوند داسې روښانه دے چې ځان يو ډېر ښه مجنون ګڼم. چې په داسې پښتنې ليلى مئين يم چې په هغې کښې زندان او دار هم ما ته جنت ښکاري. او زۀ دا مينه او محبت په يو قيمت نه بدلوم. اجمل بابا د پاکستان په دواړو ايوانونو کښې هم څو ځله پاتې شوے ؤ. په هغې کښې ئې هم د پښتون او پښتو خبره داسې په نره کړې وه چې د هغه وخت کسان ئې په دې مجبور کړي وو چې د اجمل خټک بابا د کور او حجرې سلام ضرور وکړي او خپل ځان ترې پوهه کړي. اجمل بابا د باچاخان بابا په قافله کښې د نورو خدائي خدمتګارو په شان هغه تکليفونه برداشت کړي وو چې په هغې کښې جلاوطني هم وه. او جيل ته تلل وو. او د خپل ځان او مال قرباني ئې هم ښه په نره ورکړې وه. بابا د MNA او سنيټر او بيا د عوامي نيشنل پارټۍ مرکزي صدر هم جوړ شوے ؤ. خو د دې باوجود ئې هم د ملنګۍ ژوند خوښ کړے ؤ. اجمل خټک بابا ته د خپل وخت ګورنر هم څه نقدې روپۍ ورلېږلې وې خو چې هغه بابا وليدې نو فوراً ئې خپل زوي ايمل خان ته ووئيل چې بچيه دا پېسې واخله او ګورنر صېب ته ئې واپس ورکړه. ما ټول عمر په خوددارۍ کښې تېر کړو. او ګورنر صېب زما هغه ټول عمر د خوددارۍ په اوبو وړي. اجمل بابا يو داسې خودداره او د لوئې صبر انسان ؤ چې دوي د هر وخت خوشحالي او غم ډېر په پښتون ولۍ سره تېر کړو. خو چا ته ئې هم لاس ونه نيولو. د پښتون او پښتو د کاميابۍ او خوشحالۍ دپاره ئې د هر پښتون کور او کوڅه په کوڅه وګرځېدو او دا خواست ئې ور ته وکړو چې د خدائي دپاره خپل وطن او خپل قام او پښتون اولس که خوشحاله غواړئ نو مهرباني وکړئ او د باچاخان بابا د قافلې سپايان جوړ شئ. او تعليم عام کړئ

او خپل بچي تعليم يافته کړئ او د کاميابۍ په طرف مزل شروع کړئ. اجمل بابا چې دا خبره نورو پښتنو شاه زلمو او مشرانو او کشرانو ته کوله. هغه رنګه ئې خپل ځان کښې دا خبره داسې په مستقل ډول راوستې وه چې د ژوند تر آخري ساه پورې په ښه پښتون عمل کړے ؤ. او د حالاتو يو حال هم بدل نه کړو. او د لوئې خدائې په ذات ئې داسې قسم کړے ؤ چې اے لوئې خدايه ستا په ذات مې دې قسم وي چې زۀ به د خپل پښتون وطن او خاورې خدمت داسې کوم چې دنيا ور ته حېرانه پاتې شي او زۀ خدائې تعالى نه ډېر همت او فضل غواړم او ما په دې قامي خدمت کښې کاميابه کړې چې زۀ ستاسو د مخلوق خدمت په خلوص سره وکړم. يا الله په ما به دې لوئې احسان وي. الله تعالى په اجمل خټک باندې داسې احسان او فضل کړے ؤ چې د دنيا په مخ ئې يو داسې انسان پېدا کړے ؤ چې د الله تعالى مخلوق به پرې په هر ځائې او هر وطن کښې خوشحاله ؤ. او صحيح خدائې خدمتګاري ئې تر مرګ پورې وکړه. او د خپلې خاورې خدمت ئې د سياست،قلم او د ادب په ژبه داسې وکړو چې مونږ او د ټولې نړۍ خلق به پرې تر قيامت پورې فخر او وياړ کوو او د اجمل بابا ژوند او مرګ زمونږ دپاره يو مثال وي که څېر وي.

بابا د سياسي مېدان سره سره په ادبي مېدان کښې ډېر ښه نوم ؤ. او د يو ښه اديب په نوم به خلقو پېژندو. او بابا د ډېرو کتابونو ليکونکو کښې ؤ. د اجمل خټک بابا په ژوند او د هغه په سياسي او ادبي ژوند که څوک تنقيد کوي نو هغه به د هغو خلقو خپل مقصد وي او د خپلې پوهې پورې به اړه لري. خو د اجمل بابا ژوند د پښتون قام او د نړۍ نورو خلقو دپاره يو ژوندے مثال دے چې مونږ ټول د لر و بر پښتانه پرې فخر او وياړ کوو. اجمل بابا چې څنګه نورو پښتنو مشرانو او مشرانو سره مينه وه دغه رنګه مينه او محبت او د پښتون ولي خبرې ئې ما سره هم وې. او داسې مشر او سياسي استاد مې ؤ. چې زۀ نن په دې خبره ډېر فخر او وياړ کوم چې يو داسې نر پښتون او داسې مشر ما ته د پښتون قام او خاورې د خدمت دپاره وينا کړې وه چې هر قام د دنيا په مخ هلته کاميابي مومي چې د خپلې ژبې او قام او خاورې خدمت په نره کوي او په دې لاره کښې هر قسم تکليفونه برداشت کوي. نو د نړۍ په تاريخ کښې کاميابه اولسونه ګڼل کېږي.

د باچاخان ټول ملګري او د خدائې خدمتګار د لوئې خدائې تعالى په فضل و کرم سره د نړۍ کاميابه خلق دي انشاء الله. هسې خو مونږ اجمل بابا په ټيلي ويژن او اخبارونو کښې ډېر ليدلے ؤ او د هغه جلسو او جلوسونو او پروګرامونو ته به تلو خو د هغه سره زما د ليک او ټيلي فون رابطه په هغه وخت جوړه شوه چې اجمل بابا د لړ ناراضګۍ نه پس بيا خان عبدالولي خان بابا سره په پښتني قافله کښې يو ځائې شو. او د پښتون خدمت دپاره په يو ځائې روان شول. ما چې د اجمل بابا دا پروګرام وليدو نو خپل ډېر مخلص خدائي خدمتګار او په دې پښتنه خاوره مئين پښتون مشر او د خپل وخت غازي ښاغلے ميا افتخارحسين صېب ته ووئيل چې ميا صېب

ما ته د اجمل بابا د ټیلي فون رابطه نمبر راکړئ او د هغه د کور پته هم راکړئ چې زۀ ورسره په ټیلیفون او خط و کتاب رابطه وکړم.

ما ته میا صېب د اجمل بابا د کور ټیلیفون نمبر راکړو. زۀ ډېر خوشحاله شوم چې د یو لوئې پښتون مشر نمبر مې ترلاسه کړو. ما چې څنګه اجمل بابا ته ټیلیفون وکړو او خپله پېژندګلو مې ورسره وکړه چې بابا زۀ رحمت شاه قریشي یم او د ANP کارکونکے یم او د ګومل بازار ټانک اوسېدونکے یم اجمل بابا زما په ټیلیفون ډېر خوشحاله شو چې د هغه د خوشحالۍ څه حد نه ؤ او داسې د محبت خبرې ئې ما سره وکړې چې لکه اجمل بابا ته د ډېرې مودې ورک شوے کس پېدا شوے وي. اجمل بابا ما ته ووئیل چې ډېر ښه بچیه زۀ ستاسو په دې پښتنه مینه ډېر خوشحاله شوم او ستاسو په قامي خدمت فخر او ویاړ کوم او زمونږ نه پس به ستاسو د باچاخان بابا قافله د اسفندیارولي خان صېب په قیادت کښې منزل په طرف بوځئ. اجمل بابا ما ته وویيل چې بچیه زۀ تاسو ته یو ډېر ضروري او قیمتي کار په ذمه کوم چې هغه د دې وخت ډېر خاص ضرورت دے او هغه دا ده چې ته به د نن نه پس د هغه ټولو خدائي خدمتګارو د ژوند حال او احوال جمع کوې. هغه خدائي خدمتګار که ژوندي او که له دې فاني دنیا رخصت شوي وي او که پارټۍ کښې اوس موجود وي او که نه وي خو ته به د هغوي د ژوند حال و احوال ضرور جمع کوې او زۀ له دې نه کتاب جوړوم نو دا به ستاسو په ما او په خپل پښتون قام ډېر لوئې احسان وي او له دې کار نه به ځان غړونه نه کوې.

اجمل خان بابا ته د هغو خدائي خدمتګارو نومونه او قبیلې او کلي داسې معلوم او یاد وو چې تا به وئیل چې دا ټول کسان د اجمل بابا د کور کسان دي او داسې مینه ورسره کوله چې تا به وئیل چې دا کسان اجمل بابا سره په یو نغري لوئې شوي دي. اجمل بابا د هغه خدائي خدمتګاران د ډئي آئي خان،ټانک،جنوبي وزیرستان او د ګومل بازار کلي او د ګوملې علاقې کسان داسې نوم په نوم یاد وو چې د سړي عقل به ور ته حېران پاتې شو. اجمل بابا زما یو سیاسي استاد شو. او د اجمل بابا او زما رابطه تر مرګ پورې جاري وه. ما د بابا خبره په زړۀ پورې جوخته کړه او د ګوملې،ټانک،ډي آئي خان او د وزیرستان په ملګرو او خدائي خدمتګارو په کورونو وګرځېدم او د هغو خدائي خدمتګارو د ژوند حال و احوال مې بابا ته جمع کړل. او په ډاګ مې ور ولېږل او بابا په هغه کار ډېر خوشحاله شو او په واپسۍ کښې ئې ما ته یو خط د شکریه دپاره راولېږلو او شکریه ئې ادا کړه او په خط کښې ئې لیکلي وو چې بچیه دغه کار ستا د ژوند کار شو او په دې کار باندې قایم اوسه. او د خپل پښتون قام خدمت شپه او ورځ کوه. او پښتون مجلې سره هر وخت رابطه کښې اوسه. د اجمل بابا هغه خط زۀ د پښتون مجلې په ذریعه خپلو پښتنو وروڼو ته

وړانـدې کـوم او امید لرم چې پښتـون اداره به ئې په دې مـضمون کښې شامل کړي بابا ما سره د مرګ نـه دوه درې ورځې وړانـدې هم خبرې وکړې او ما صـبـ مـا کـه سـرۀ ډولـۍ رانـه وړه نو انشاء الله زمـونږ راتـلـونـکـے نسـل ملګري بـه ئې ضرور راوړي که خبر وي. نو نن زۀ ډېر خوشحاله یم چې

## ښاغلي زلمي رحمت شاه قریشي ته په مینه او دعا

قـریشـي صـاحـب ستا ډېر ښکلے خط چې په ډېره غیرتي جذبه او د پښتو او پښتـون ولـۍ په مینه لیـکـلـے شـوے دے. ما ته رارسېدلے دے او جواب مې هم در لېږلے دے. خو نن شیر احمد یاد تۀ بیا را یاد کړې.

قـریشي صاحب ستا معلومات ډېر ښه دي. شیر احمد را ته ستا په مینه لیکلي دي زۀ ستا په خط ډېر خوشحاله شوے یم. تا دې الله تعالی د ټول قوم سره خوشحاله ساتي.

آئـنـده ما ته خط پښتو کښې لیکه. هر څنګه چې وي زۀ به ترې مطلب اخلم او تا ته به خپله ژبه لیکل ډېره آسانه شي.

هیله لرم چې تاسو د ژبې او ادب خدمت کوئ. دا د پښـتـون قوم د ژوند او کامیابۍ بنیاد دے. زۀ به کوشش وکړم چې په فون هم تا سره خبرې کوم . ټولو ملګرو ته سلامونه

اجمل خټک 6.10.06

تـه ئې دا خـواسـت وکړو چې بـچیه د خپل قام او ژبې خدمت به همېشه کوې. د پښتنو اتلانو سره به اوږه په اوږه دې قافله کښې ځان شامل ساتې. زۀ به تا نه ډېر خوشحاله یم او اجمل بابا ما ته یوه خبـره دا هـم وکړه زما دا خبره به د یو ډېر مخلص خدائي خدمتګار امیر کمانډر ته ضرور کوې چې دا سـوال ما نه په هغه وخت کړے چې زۀ لا ټانک تـه د بـاچاخان بابا برسۍ پروګرام له درغلے وم او امیـر کمانډر ما ته ووئیل چې خټک صېب تا خو وئیـلي وو چې زۀ د افغانستان نه درځم نو د سرې ډولۍ سره به درځم خو ته خو خټک صېب خالي لاس راغلې ما امیر کمانډر ته ووئیل چې کمانډر په صوبه کښې د ANP حـکـومت دے او هغه سـرۀ ډولـۍ ئې راوړه نـو دا زیـرے امیرکمانډر تـه ضـرور ورکړه او مـا د بـابا هغه زیرے امیر کـمانډر ته ورکړو. مونږ د بابا په ژوند او مرګ ډېـر فـخـر کوو او د بابا قامي خدمت به د خپلې لارې دپاره یو مثال جوړوو. او د اسفندیارولي خـان پـه قیـادت کښې به د اجمل بابا او د نورو خـدائي خدمتګارو د قامي اواز هر چا ته ضرور رسـوو. الـلـه تـعالی دې مونږ ټولو کشرانو او مشـرانـو تـه ډېـر هـمت راکړي. او مونږ ته دې الـلـه پـاک د اتـفـاق او د امن ژوند رانصیب کړي. امین